څوک چې (چاته) ضرر واړوي الله به هغه ته ضرر ورواړوي او څوک چې پر (چا) سختي راولي، الله به په هغه سختي راولي

له ابوصرمة - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «څوک چې (چاته) ضرر واړوي الله به هغه ته ضرر ورواړوي او څوک چې پر (چا) سختي راولي، الله به په هغه سختي راولي».

[حسن] [ابو داود، الترمذي، ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم يو مسلمان ته له زيان رسولو او يا ورته د تکليف رسولو په اړه خبرداری ورکړی دی؛ که دا تکليف رسول د هغه په مال کې وي او يا ځان کې، او دا چې که څوک دا کار وکړي، نو الله تعالى به هغه ته سزا ورکړي او د هغه د کړني سره سم به يې مجازات کړي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5375